مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

خالق رشید ۲۰۱۸/۰۱/۰۹

راباندې ګرانه یې،

خو تر سپي مې نه...

(لنډه کیسه)

زموږ ټولګی ځکه زموږ د کالج د ټولو یارانو په خولو کې لویدیلی ، چې زموږ ړوند ټولګیوال تل خپل سپي له ځان سره د ټولګي تر دروازې پورې راولي ، دې ټولګي ته را ننباسي ، پرځوکۍ یې کینوي او بیا بیرته لکه یوښه سرپرست او لارښود خپله له ټولګی څخه وزي ، هلته د ټولګي دروازې ته مخامخ ځان سره وپیچي ، ترهغو چې یې خاوند له درسه خلاصیږي ، هم هلته آرام پروت وي ، اویوازې زموږ ټولورفتار او زموږ قدموته، په خپلو نیم کښو سترګوپه حیرانتیا دریانتیا سره ګوري اوګوري...
زما او زما د ړانده ملګري کورونه هم سره نژدې دي ، کله کله چې سهارمهال کالج ته راځو، په لاره کې سره یوځای کیږو ، سپي یې ترمخ دی ورپسې وي ، ټول فکر او پام یې دې ته وي چې څنګه ښه درس ووایي او څنګه ښې نمرې ترلاسه کړي ، دی تل دزړه په سترګو پرهمدغه ورکه پسې څارو وي ... دی نصرت نومیږي خو موږ یې له ډیرې مینې نصرت جان بولو ، زموږ یوشمیر چې ټوکي ورسره لري ، دهغوحساب بیا بیل دی ، څوک نصرتی بولي او څوک یی په دې خاطر چې هرڅه دده له خوا ډیرزر نشریږي بیا نشرتي بولي ، ښه هلک دی ، زحمت وباسي ، او د زړه روښانتیا یی دومره ده چې په هرڅه پوهیږي اودهرڅه په باره کې نا لیدلی خو مناسب قضاوت کولای شي ...
زموږ یوه ټولګیواله یې ښه ایسده ، تل به یې غږ پرهغې و، له هغې سره یې هم اړیکې پردې خراب شول چې ده یوه ورځ ورته ویلي وو ، راته ګرانه یې ... هغې ورته ویلي وو چې څومره ... ده بیا په ځواب کې ورته ویلي وو چې : ډیره راباندې ګرانه یې خو ترسپي مې نه...
له هغه وروسته به یې چې نصرتی لیده ځان به یی تر پرېله کاوه ، داسې چې نوریې هغه نژدې اړیکې سره پرې شول چې تراوسه پورې بیا یو پرېل ورنه غلل ... که رښتیا ووایم دغه نشرتی ، شرارتي نوم هم د لومړي ځل لپاره د هغې له خولې راووت چې ورو ورو دنورو په خولو کې هم پریوت ... دده یوه ښه یا بده ځانګړنه داوه چې دزړه روغې خبرې کله کله داسې ، لکه چې نه پوهیږي په کوم ځای اوڅنګه یې وکړي لکه دناپوه سترګور هغه ړندې او برندې ترې راوځي ...خو دی داسې نه دی ، زموږ ټولګیوال کله کله دده په اړه دا خبره هم کوي چې ، نصرت که ړوند هم دی خو خبرې یې هره یوه لکه دهندوانو شیو ا دری سترګې لري...
زه یوازنۍ خارجي وم چې له دوی سره مې په یوه ټولګي کې درس وایه ، ټولو مې ډیردرناوی کاوه ، په تیره بیا نصرت... ده به تل له ما زما د وطن په باره کې پوښتنې کولې ، په دغه اړه یې ځانګړې لیوالتیا وه ، هڅه یی کوله چې په ډیرو خبره باندې ځان پوه کړي ، ځکه چې زموږ ټولګی په خپله د سیاست پوهنې ټولګی و، استادانو به هم چې لکچرونه راکول نو یومثال خو به که په ورځ کې نه و ، خو په اوونۍ کې خوخامخا افغانستان و : داسې لکه په افغانستان ... لکه امریکا چې په افغانستان کې اوس .... لکه امریکایی پالسي د افغانستان په باره کې ... دا ډول مثالونه به تل په ورځ، اوونۍ اومیاشت کې سره کار ته پورته کیدل...
نه پوهیږم چې په هغه ورځ پرکوم اړخ را پورته شوي و، کله چې زه له کوره راووتم ، دی هم د کالج پرلور له خپل سپی سره ټک ټک نری نری روان و، په هغه سهار سخت باران شوي و، لاره ختو اوچکړو پرسرا خستي وه ، په سرګ به چې موټر تیره ډند اوبه به یې په بې دریغه توګه د سړک دغاړې خلکو ته ورپاشلې ، ما ترلاس ونیو او دواړه ګډ سره روان شوو، ما لا دده لاس سم په لاس کې نه و نیولی چې خپل لاس یې زما له لاسه یوډول ورکش کړ چې زه یې په ځان کې ولګولم ... زرمې پوښتنه ترې وکړه : انشاالله خیرت خو به وي ؟ ده را غبرګه کړه : ـ اړینه نه ده ، پرې مې ږده چې په خپل سپي پسې ځم ، که ما له انسانه دخیرتمه درلوای نو بیا مې سپی څه کاوه ، ... ځه خپله لار دې وهه ... ما پریږده او سپی مې...

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زه حیران شوم ، نصرت خو کله هم ماته داسې کم نظري نه وه کړې ... پرې مې ښود ، له خپل سپی سره روان و، لږ وړاندې چې ولاړ سپي يې مخکې روان و، ناڅاپه دکوڅې دسر کوم سپي حمله پرې وکړه ، دده سپي غوښتل ځان نصرت ته رانژدې کړي ، خوهغه يې له نصرت سره يوځای دواټ ځنګ نالې ته ورټيل وهل او دواړه په ختو او چکړو کې سره ليت پيت شول . ما زر ځان ورورساوه ، را پورته مې کړ، خو دومره چټل شوی و چې ناچاربيرته دکورپرخوا روان شو، هيڅ يې هم ونه ويل ، ان چې په ساده مننه يې هم ونه کړه ... په همدغه شيبه کې زما هماغه ټولګيواله هم را پيداشوه ، چې هغې هم دا صحنه ټوله ليدلې وه ، ځکه خويې ماته په تانه ييزه ژبه وويل:
ـ ودې ليد ، نشرتي ... شرارتی ، هغه په خپل سپي دومره نازيږي چې بس هغه ده ته هرڅه کوي ، خودکوڅه يې لنډغرو خرپ او ترپ يې نه ليدلی ... ښه شو، ډيرښه شو، ماته يې ويلی وو چې راته ګرانه خو تر سپي مې نه...
ددې خبرې خدای شته زه يوڅه سره سوچې غوندې کړم : دکوڅه يې لنډغرو خرپ او ترپ .... زرمې پوښتنه ترې وکړه : ـ داڅه ډول سپي دي ؟
زر يې ځواب راکړ:
ـ داهم هغه سپي دي ، هغه چې هرچا هرې خوا ته وشکارل ، بيا نو مخ څټ نه لري ... ولې ستاسې په ملک کې داسې نشته ؟
ـ کيدای شي ، خو زه ډيرنه يم ورته متوجه شوې...
ـ شته ، شته ، ولی هغوی چې امريکايان کارترې اخلي او هغوی چې ستاسې په کوڅو اوبازارو کې په خرپ او ترپ سره ژوند کوي ـ هو، داخوشته ، دا دواړه ډوله شته...
ما بيا پوښتنه ترې وکړه:
-کوم ډول ښه دي اوکوم بد ؟
هغه راته موسکی شوه:
ـ سپي خو دواړه سپي دي ، دالومړی يې تعليمی دي ،هرڅه ديوه ورکړه شوې درس له مخې ، ترسره کوي او دابله ډله بس شکارل شوی او دخرپ او ترپ دي ... لکه چې دنصرت پرهغه يې نن حمله وکړه او د سترګو په رپ کې ورک شو...
خو زه لاهم ددې ددغې پوښتنې په سوچ کې وم چې: ولی تاسې يې نه لرئ ؟ چې موږ دواړه ټولګی ته راورسيدو ، لامو ښوونکي نه و راغلی چې نصرت يې هم سپي ټک ټک را ورساوه او پرمايی غږ وکړ چې چيرې يم ؟ ماهم په مات زړه غږ ورته وکړ چې کواکي ، شته يم ، شته ... له لنډې دمه وروسته يې زه ځانته وروبللم ، او دننې پيښې له امله يې ښښنه رانه وغوښته ...خو لامل يې راته ونه وايه ... په عين حال کې يې سرټکونه له دې وه چې ګوره زما سپي څومره شريفه دنده ترسره کوي اولنډغر کوڅه يې سپي بيا څومره بدغوني دي ... په څومره بد غونۍ يې پرموږ را وترپل...
ما څه ورته ونه ويل خوده له خپلې ښښنې سره سره زموږ دهم ټولګيوالې هم هغه پوښتنه راڅخه وکړه ، تاسې هم په خپل وطن کې داسې کوڅه ډوب لنډغرلرئ...
ما ده ته هم په لنډو ځواب ورکړ:
ـ کيدای شي....
ده را غبرګه کړه:
-کيدای څه چې خامخا يې لرئ ... ستاسې هغه ترموږ هم خطرناک پردې دي چې هغوی يومهال تعليمی وو ،هغوی امريکايانو ډيرنازول، خوکله يې چې سريله پريښودل ، بيا ترې کوڅه ډب هغوی جوړشول ... هغه ډيرخطرناک نسل دي، هو، ډير ... مادهغوی په باره کې ډيرڅه اوريدلي دي...
ـ نصرت جی ، نه پوهيږم ... زه ډيرماشوم وم چې له وطنه راوتلی يم...
ـ هو ، دادرسره منم ، خو داسې مه وايه چې : کيدای شي اويا وي به...
زموږ دغه خبرې زما ټولګيوالې نجلۍ هم اوريدلې ، داسې ښکاريده چې نصرتی هم له هغې داخبره اوريدلی وه ، ځکه يې دخپلو خبره په ترڅ کې داهم وويل چې ده له سلما څخه هم دغه خبره اوريدلې چې:
ـ سپي خو دواړه سپي دي ، دالومړي يې روزل شوي دي ،هرڅه ديوه ورکړه شوې درس له مخې ،ترسره کوي او دابله ډله بس شکارل شوي او دخرپ او ترپ دي اوبس...
رښتيا ما نورڅه ورسره ونه ويل ، زموږ دسياسي اړيکو ښوونکي راغله اوپه خپل لکچريي پيل وکړ، هغې هم نن بيا دخپل لکچر په ترڅ کې څوڅو ځلې د افغانستان نوم ياد کړ: ... لکه په افغانستان کې دامريکا شته والی... لکه امريکا چې پرته له کوم لرليده افغانستان ته دعراق جګړه را وليږدوله ... لکه امريکا چې په اتيايمه لسيزه کې افغانان دروس پرضد وسلوال او دهغه پرضد وکارول او بيا يې خپل افغانستان هم پر دوې وران کړ...
په هغه ورځ دا زموږ وروستي لکچرو، ما زديګرناوخت ستړی ستومانه کورته را ورسيدم ، دخپلې ورځې اوږدو ته مې يولنډ سوچ وکړ ، زما دټولګيوال سپي را ياد شو، دخپلې هم ټولګی خبره را ياده شوه، په همدغه سوچ کې مې

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ډوب وم چې د پلار تليفون مې وشرنګيده ... ، له کومې جنازې راغلی و ، سخته په قهرو ، دايي لومړۍ خبره وه چې:
ـ بچيه سلام ، شکر چې جوړ يې موږ خونور له جنازو ترپزې راغلي يو ، هره ورځ ، هره شيبه ، او هرګړئ يوه څه چې جنازې پرخاورو سپارو ، وطن نور سپيو په سراخستي ،هغوی سپيوچې نورنو د انسانانو په وينو هم ماړه شوي...
ما هيڅ هم ورته ونه ويل يوه شيبه مې ښه ورسره وژړل ، بيامې زر خدای پاماني ورسره وکړ، د تليفون له ټنۍ وهلو سره سم مې فکر ته راغله چې کاشکي مې هغه دخپلې ټولګيوالې نجلۍ جمله د پوښتنې په توګه ترې کړې وای چې :
ـ پلاره ، له کومو سپيو ؟دامريکايانو له روزل شويو بګيلو
او که له شکارل شويو خرپ ترپ والو .... ؟؟؟

خالق رشيد
دوه زره اتلسم کال ، جنوری ۳

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ